**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

Share

Twittern

سلام خان ۲۰۱۲/۰۵/۰۶

# ګا ونډیانو مجبور کړو چی ستراتیژیک تړون لاسلیک کړو

د افغانستان او امریکا ترمنځ د ستراتیژیکو اړیکو تړون چی د تیرې سه شنبې په شپه په کابل کې د دواړو هیوادونو د جمهور رییسانو ترمنځ لاسلیک شو **ددغه تړون له مخې تر ۲۰۲۴ کاله پورې** په افغانستان کې د امریکایي پوځونو حضور په پام کې نیول شوې دئ چې وروسته به دافغانستان دپارلمان له لورې هم تصویب کیږې لکه څرنګه چې معلومه ده افغان ولسمشر حامد کرزي تیره اوونۍ په یوه خبرې کنفرانس کې ډاډ ورکړ ( چې د هغه د هیواد له خاورې څخه به د هیڅ ګاوندي هیواد پر ضد د پوځي عملیاتو له پاره کار وا نه خیستل شي هغه وویل چې د متحده ایالاتو او افغانستان تر منځ د اوږدمهالي همکارۍ تړون د ګاونډیو هیوادونو له پاره« ګواښ» نه دئ، بلکې په دې تړون سره به د سیمې په «امن او ثبات» کې مرسته کیږي) خوایران دافغانستان په ملي شورا کې د دې تړون د تصوییبیدو د مخنیوي هڅې کوي چې ویل کیږي؛ د دې سند د لاسلیک کیدو د مخنیوي لپاره یې پراخې منډې او تړړې پیل کړی دې.

د اسوشیتد پرس خبري اژانس د یو رپوټ له مخې، چې د ایران د دولتي آژانس، ایرنا، په حواله ئې ورکړی دئ، د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویلي دي، چې دغه هیواد د افغانستان او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د هغه تړون په هکله چې تیره اوونۍ د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي او د متحده ایالاتو د ولسمشر بارک اوباما له خوا لاسلیک شو، سخته «اندیښنه» لري **د دغه تړون تر لاسلیکولو وروسته دا لومړی ځل دئ چې د افغانستان یو ګاوندی هیواد په دې هکله غبرګون ښکاره کوي ایران له ډیر پخوا راهیسې د هري هغې موافقې مخالفت کړی دئ، چې د افغانستان په شمول د هغه په ګاونډیو هیوادونو کې د امریکایي ځواکونو د حضور ضمانت وکړي په عراق کې هم تهران د متحده ایالاتو له پوځي شتون سره مخالف وو.**

ایران پدې برخه کې خواشینی او وایي چې د افغانستان سربېره د ګاونډیانو له خوا د امریکایانو سره هر ډول تړون چې په سیمه کې د امریکا شتون ته جواز ورکوي  موږ ته منلو وړ نه دي ،د ایران د بهرنیو چارو ویآند رامین مهمانپرست د ایرنا خبري اژانس ته ویلي دي چې امریکا او افغانستان تر مینځ ستراتیژیک تړون به په افغانستان کې ستونزې زیاتې کړي او بې ثباتي به راولي چې دایران سره اوږده پوله لري. نوموړي زیاته کړه چې د بهرنیو قواوو وتل به په دغه سیمه کې امن راوړي په کابل کې د مشرانو جرګې له رییس سره د ایران د نوي سفیر کتنه ښایي د هغو پراخو هلو ځلو یوه برخه وي؛ چې په وسیله یې ایران غواړي د افغانستان اومتحده ایالاتو ترمنځ د ستراتیژیکو اړیکو د رامنځ ته کیدو مخه ونیسي د مشرانو جرګې ځینې غړي وایي، د ایران سفیر ابوالفضل ظهروند د مشرانو جرګې له رییس فضل هادي مسلمیار سره په تعرفي کتنه کې له هغه وغوښتل؛ چې ملي شورا دې له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو تړون رد کړي یوه سناتور محمد داود حساس چې په دې کتنه کې یې برخه لرله په کابل کی ورسنیو ته ویلی دی، چې د ایران سفیر دغه تړون د خپل هیواد د ملي ګټو پر ضد وباله ،تېره چهارشنبه د ایران نوی سفیر دلته راغی او د مشرانو جرګې له رییس سره یې د هغه په اطاق کې ولیدل، په هغه لیدنه کې زه هم وم. د هغه لومړنی خواست دا و، چې دا تړون (د افغانستان او امریکا ترمنځ ستراتیژیک تړون) د ایران په تاون دی باید رد شي موږ ورته په ځواب کې وویل، که چېرې تاسو تېر درېش کاله له افغانستان سره مو ښه دوستي رااخستې وای، دې تړون ته د لاسلیکېدو ضرورت نه وای. د ګاونډیانو له لاسه موږ مجبور شو، چې له امریکا سره ستراتیژیک تړون لاسلیک کړود.

"په افغانستان کې د ایران نوي سفیر چې تقریباً په عصبانیت سره یې خبرې کولې؛ خبرداری ورکړ، چې که چیرې د امریکا او افغانستان ترمنځ ستراتیژیک سند تصویب شي، ایران به یې په اړه چوپ پاتې نه شي او عکس العملونه به وښیي ولی دایرا ن سفیر لاتر اوسه په دی نه پوهیږی ؛ چې افغانستان د یوه خپلواک هیواد په توګه په خپله د دې سند په اړه د پریکړې صلاحیت لري ایرانیو چارواکو پخوا هم په بیا بیا د افغانستان او امریکا ترمنځ له ستراتیژیکو همکاریو او په افغانستان کې د امریکا له پوځي حضور سره مخالفت ښودلی دی په کابل کې د ایران د سفیر وروستی هڅه د افغانستان په چارو کې د ایران یوه ښکاره لاسوهنه او د ډیپلوماټیک عرف پرخلاف ګڼله کیږي د افغانستان په داخلي چارو کې دا ډول بربنډ مداخله باید د منلو وړ نه وي، موږ چینلونه لرو، چې هغه سفارتونه دي. دوی باید د خپلو چینلونو له لارې باید د خپل دولت رسمي نظریات د افغانستان دولت ته وړاندې کړي او هغه د خارجه وزارت دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ددی بیځایه اندیښنی چي وایی امریکا له دې ستراتیژیک تړون سره غواړي، په افغانستان کي خپل پوځي حضور ته دوام ورکړي، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند جانان موسی زي د دهغو اندیښنو په غبرګون کي دیکشنبی په ورځ دمی دمیاشتی په شپږمه نیټه په کابل کی ویلی دی چی دا تړون ایران ته ګواښ نه دئ بلکی په سیمه کی دنویوالې تر هګری دځپلو له پاره ګټور بلل کیدای شي،موسی زي یو ځل بیا ټینګار کړی دی چي افغان حکومت تل د ایران په ګډون ټولو ګاونډیو او د سیمي هېوادونو ته ډاډ ورکړی دئ، چي د افغانستان او امریکا ترمنځ ستراتیژیکي اړیکي ئې په زیان نه دي،ده داهم ویلی دی چی هیچا ته به اجازه ورنه کړي، چي د افغانستان خاوره د سیمي یا د کوم بل ګاونډي هېواد پر ضد وکاروي. خو له ګاونډیانو او سیمه ییزو هېوادونو څخه مو هم هیله داده چي له خاوري ئې باید د افغانستان سوله او ثبات زیانمن نه شي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ